مصطفی پسرلی ۲۰۱٦/۰٤/۲۰

# زما کور ورانوی

د "بصیر بیدار ستوری" شعر




دا چې زما کـور ورانـوی ما وژني
ګړ دښمن متو یو دې ما او تا وژني

شپه مو په سلګو اوښکو کې تیره شي
غـم دبـې وسـی مـو هر سبا وژني

سر په زنګون کیدم چې ویده به شم
خوب نه راځي هسي مي سودا وژني

زه ورته کوم نوم د وحشت ورکړمه
لوی واړه زمور چې بې ګناه وژني

لر دي که د بر دي خو پښتون به مري
پټ نـه دي ښکاره یـئ برمـلا وژنـي

خـدایـه هغه ټول کاندي هلاک برباد
څوک چې مور دهر چا په سلا وژني

بـس که ریښتیا مـه وایـه بیداره نـور
ډېر خلک دوی ګوره په ریښتیا وژني



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com